# د پښتو د وڼېڅي (ترينو) لهجې په فوکلور کښې د کلتوري علامتونو راښکارا

# Expression of the Cultural Symbols in the *Wanitsi* Accent of Pashto Langauge

Muhammad Fazal Farhad[*]
Email: fazaltareen89@gmail.com
Dr Barkat Shah Kakar[†]
Email: drbarkat.uob@gmail.com
Gul Ghutai[‡]
Email: gulghutai78@gmail.com

Issn 2304-1463

**Abstract:**

As collective creative act, Culture is known as a complex whole that shapes the worldviews, value systems, socio-economic relations and belief of the people. The pre-modern cultural manifestations unfold diverse meanings, symbols, values, colors, tastes, histories, beliefs, and rituals. The folklore is one of the key sources that preserves and promotes the cultural and social traditions, rituals, histories and memories of the traditional societies. In the course of history, Pashtun culture has evolved diverse tangible and intangible cultural repositories which are stemmed in the oral tradition. Folklore is one of the most candid and pervasive sources of accumulating the collective memories of people. This paper trace back the manifestation of the "symbols" in the folkloric genres of *Wanitsi-Tarino* as distinct Pashto dialect spoken in the district Harnai and parts of the district Ziarat. The researchers have strived to analyze the presentation, meaning, common people in the folkloric expressions.

**Key Words:** Folklore, Symbols, Pashto, Wanici-Tarino, Aesthetics

پېژندګلو:

د انساني تهذيبونو قصې ته که ځير شو نو دا خبره جوتيږي چې د کلتورونو او تهذيبونو په رغښت او ارتقا کښې ژبه يو بنسټيز يرل لور، کلتور چې چيري د

* M.Phil Scholar, Department of Pashto University of Balochistan
† Associate Professor/HOD Department of Pashto University of Balochistan
‡ Assistant Professor Department of Urdu, University of Balochistan

انساني ژوند د ارزښتونو په سوب خپل کړۀ وړۀ تشکیلوي، ژبه د فولکلور و د ثقافت زېرمې چي څومره د قامونه له انګړه او له ټولنیز ژونده د کتابونو زړه ته غزونه کړې ده، څېړنکارانو د څېړنیز بهیر برخه ګرځولي ده، تر دې څو چنده زیات لا د اسرار په زړه کې خپل ټولنیز محرکات دوامداره ساتي، بلکه داسي ده چي کلتور په خپل داخل کښي ولاړ یا جامد نه وي ځکه د وخت پر هر پړاو له خپلې فطري ودې و ټولنې ته نوي نوي تصورات، افکار، ټولنیزه پوهه، د ژوند اطوار او نور ډېر څه پېرزو کوي، په مانا چي د وخت تحریکي بهیر کي یو بشپړ ټولنیز عکس العمل رابرسېره کوي.

په دغه تسلسل کښي د پښتنو کلتور او فولکلور چي څومره یون کړئ دئ او لا په دې ډګر کښې یې د خپلې شېرینۍ په اسرار کې ساتلي هم دومره په ورین تندي پښتو کلتور پوهان و فوکلورستان د خپلو څېړنو په بشپړتیا یي بهیر کي یون کوي.

همداسې د پښتني کلتور و فوکلور یوه ستره او غني برخه چي د علم له تراشه یې خپل ځان په تاخچه کي ساتلی، د وښځي په نامه له سترګو پناه د اسرار په حالت کې د خپل ټولنیز بهیرو مل د پوهانو له سترګو پناه پاته ده.

د وښځي یا ترینو سیمه ایز کلتور په ځانګړې توګه نه دئ تحلیل شوی خو د فوکلور په برخه کې یې سید خیر محمد عارف صاحب ډېر زیار کښلی دی.زموږ د موضوع بنیادي موادو زیاته برخه هم د ښاغلي عارف صاحب له کتابونه را اخیستل شوي ده چي رڼې غاړو او متلونو اړدانه لري.

څنګه چي موږ په فوکلور کي کلتوري اړخ ته پام کوو نو تر دې وړا یدنی ضروري ده چي موږ کلتور او فولکلور وپېژنو د دوی اړیکو ته ځیر شو او وۀ یې سنجوو چي د ټولني لپاره څومره مهم دي؟

کلتور د یوې ټولنې یا قام هنداره‌ګڼ ه چي په کلتور کښي فلسفه، کرنه، منطق، اداب، ښوونه، روزنه، قانون، اقتصادي لارې چارې، علوم، فنون، موسیقي،

نقاشي، اخلاق، مزهب، اعتقادات، او نورې ګڼې برخې دي چې د یوه قام یا نسل ټولنیز اړخونه را سپړي.

د روټلاک یړمول تعریف په ۱۸۷۱ کښې Sir Edward Tyler کړی د هپ هغه ،ی يچ ىد ےدنا يېدکلتور هغه جامع یووالی دی چې په هغه کښي علم، عقیده، فن، قانون، اخلاقیات، رواج او نور هغه صلاحیتونه او عادتونه شامل وي چې انسان د ټولني د یو غړي په حیث تر لاسه کړي وي.

”T.S. Eliot د کلچر د تعریف په باره کښي وایي چې له کلچر څخه زما مراد هم دغه دی کوم چې ترې د بشر پوهنې پوهان اخلي، یعني د خلکو د یوې خاص ډلې په یو ځای د ژوند تېرولو طریقې ته کلچر وایي" ۱

په کلچر کې د انساني فعالیتونو هغه ټولې محرکات چې په ټولییزه توګه ترسره کېږي برخه لري. او په مسلسل حالت کي دغه کلتوري ترکیبي عناصر په ټولنیزه توګه د لېږد د پروسس برخه وي. ډاکټر لعل باچا ازمون یې په فولکلور پوهنه کي ډېر ښه تعارف کړی دی چې د ټول مجلس احاطه کوي.

> " هغه ټولې تجربې او زهني فعالیتونه چې له یو نسل بل نسل ته په میراث پاتي کېږي او هغه پالل کېږي، تکرارېږي، دا کلتور یا کلچر، ثقافت او فرهنګ دی، فرهنګ یا کلتور ټولې هغه تجربې او زهنیتونه چې د خلکو له خوا رامنځ ته شوي، پالل شوي، او پر هغوی یو باور او عقیده موجوده ده دا فرهنګ دی"۲

کلتور د ټولنیزې ودې او تکامل بنیادي عنصر دی، قامي، نسلي، جغرافیایي ښکلائېز عنعنوي بنیادي تصوراتو او د ځانګړنو بنسټیز ادراک دی، د کلتور په بازګشت کي د قامونو د تاریخي ودې او ارتقای تعامل ارتباط دی.

"دا یو رښتینئ حقیقت دی چې ثقافت یو داسې همه ګیر توری دی چې د نړۍ په هر کونج کښې وي ځان له خپل اقدار، خپل ثقافت، خپل تاریخ او خپله خاوره لري، د هرې خاورې د غرونو، مېدانونو، ځنګلونو خپل اثرات وي، چې هغه د قامونو پر تاریخ او کلچر باندې اغېزه کوي، هم دغه وجه ده چې په دنیا کې د هر قام د ثقافت په جغرافیايي، تاریخي، معاشرتي او سماجي لحاظ باندې ځان له خوند او رنګ وي"۳

دغه رنګه فرهنګ بیا خپل یون تر ټولنیزو علومو او تر بشر پوهنې پورې غزوي او د ادب په پراخ علمي ډګر کښې د قامي شعور و قامي هویت بشپړه کولو دنده ترسره کوي.

ډاکټر روتهٔ بیني ډکټ په خپل اثر د ثقافت بېلابېل رنګونه چې ډاکټر نصر الله وزیر یې ژباړه کړې د کلتور په اړه د ګڼو پوهانو نظرونه را اخیستي دي چې ځیني یې موږ د خپلې موضوع د روښانه کولو په سبب دلته را اخلو.

"۱. هر هغه شئ چې د انسان د جزئیاتو او احساساتو صورت اوومومي، ته ثقافت ولی شي. باب هاوس

۲. ثقافت د دودونو او روایاتو اکتسابی طریق کار، د قرار او جنګ په زمانه کښې د شخصي او د ټولنیز ژوند، مزهب، سائنس او د فن د غونډلګې (مجموعې) نوم دی، دا د تېرې زمانې ورثه ده او د راتلونکي وخت تجربه ده.ګستاف کلایم

۳. ثقافت د اکتسابي طرز عمل نوم دی، په اکتسابي طرز عمل کې زموږه هغه ټول عادات، افعال، خیالات او اقدار شامل دي کوم موږ د یوې منظمې ټولنې یا ټولئ یا د خاندان د غړي په حېثیت په زړه پوري نیسو یا په خپله ټولنه کښې مو هغه عملي وي یا په هغه باندې د عمل کولو خواهش لرو.هیلري سپیرو."۴

کلتور په تاریخي تسلسل کې د قامي ادراکو د پېش بینۍ مفهوم وړاندې کوي او د زمان تصوراتي غېږې ته د مکاني فطرت احساس ورکوي.

فوکلور:

په کلتور کې دننه د ادبي نړۍ د تخیلاتي و جمالیاتي فکري اډانه په فولکلور ده، ځکه فوکلور ته د قامونو د جمال و جلال هینداره ویل کېږي او ادب تکیه وربانده کوي.

د فوکلور معنوي او لغوي شننې په اړه ډاکټر لعل باچا ازمون صاحب لیکي چې:

"فولک: خلګ یا اولس، لور: پوهه، د خلګو یا اولسي پوهه.د خلګو یا اولسي پوهه هغه پوهه ده چې د هر انسان د زهنیت او شخصي تجربو پایله وي، هر هغه څۀ چې د یو انسان اراده، زهنیت او په تجربو کې راڅرګند شي، یعني چې یو انسان د خپلو اعمالو، ناستو ولاړو او زهني فعالیت له مخې راڅرګندېږي، اولسي پوهه ده".۵

کله چې انسان خپل ورځني ژوند کښې له کمو شیانو سره مخ کېږي او د هغه په اړه چې کومې انګېرنې کوي او د هغې پایلې ته ځان رسوي او په خپل فکر او باور انحصار کوي دا اولسي پوهه ده، چې وروسته بیا دغه فکري پایلې کومې چې دې مشاهداتي عمل په تسلسل کښې رامنځ ته شوي د ټولنیز زهنیت برخه جوړېږي او په بېلابېلو لړیو کښې په ټولیزه انحصار غزونې کوي او وده مومي چې بیا د تقلید او وروسته ده تجسس تر ډګره زغل کوي او د متنوع څېړنو او څېړنېز بهیر برخه ګرځي

"د فوکلور تر ټولو بنسټیز ارزښت په دې کې دی چې په لومړنۍ پوهه علمي پوهې ته لاره هواره شوه، په دې برخه کښې د انسان شعور پر مختګ وکړ".۶

د فوکلور د بېلا بېلو شننو په ترڅ کښې حبیب الله رفیع صاحب لیکي چې:

" فوکلور ته په بېلابېلو ژبو کښې د فرهنګ عامه، خلک پېژندنې، توده شناسۍ، دانش علوم، خلقيات، او هم د اساطير او مېتولوژي نومونه ورکړل شوي دي، چې هر يو د خلک پېژندنې او د خلګو د فرهنګ مانا لري.فوکلور د خلګو له کړو وړو، عاداتو، رسومو، عقايدو، طرزتفکر او حتیٰ صنايعو او کسب و کار څخه عبارت دی، مېتولوژي، اساطير او ټول روايات له عاميانه افکارو څخه منځ ته راغلي چې د دوی د غوښتنو او عقايدو او تعابيرو ممثل دی".۷

فوکلور د ټولنو ذاتي او اجتماعي څرګندونو پايلې په خپله سينه کښې ساتي او د بشر د ارواييي، رواني حالت و منشأ او مظاهر د ټولنيزي اجتماعي حافظې برخه ساتي او راتلونکي په لرغونو سابقو کښې خپل ټولنيز حالت ته زیر کتنه کوي او په دغه ملي و تاريخي وړانګو کښې د دې مجموعي تصور برخه ګرځي.

بشر په خپل مجموعي حالت کي تر هر څه زيات په تقليد اډانه کوي تر څو چې نوې پايلې مومي، ځکه تاريخ پوهان و ټولنپوهان چې د يوه قام سائيکي ګوري نو د هغوئ فوکلور ته مراجعه کوي.

لينن د فوکلور مطالعه د خلګو د اجتماعي سائيکالوجي د پېژندنې لپاره مهمه ګڼله.

"د يوې پديدې ارزښت ښودلو لپاره هر انسان لومړی د خپل نظر په رڼا کي معيارونه ټاکي، دا معيارونه نسبي وي، دغه معيارونه چې د يوې نظريې په اساس را منځته شوي وي له پخلي او نورو سره تر بحث وروسته په تيوري اوړي تيوري بيا يوه ايډيالوجي رامنځ ته کوي ايډيالوجي چې کله کښښت ته ورسي او ټول پرې موافق شي نو په علم بدلېږي".۸

د دې تیوري په ترځ کښې چې کله په شلمه پېړۍ کښې په نړۍ کښې نوي تصورات و رجحانات دود شول نو فولوریستانو د اولس له سینو تتر بتر شیانو د راغونډولو چارې پیل کړې او دغه جریان تر اوسه پورې روان دئ،

ځیني قامونو پر وخت دې اړخ ته پاملرنه وکړه دغه زېرمه یې خوندي کړه او د ځینو قامونو دغه ټولنیزه منبع په پراسراره توګه د ورکېدو جوګه وګرځېده او خپل اصل حالت څه یې و اوښتي حالت ته تمایل وکړ. پښتو معاصر ادب که څومره هم نوي تصورات و رجحانات خپل کړي خو اولسي ادب لا اوس هم په اولس کښې هغسې مقبول پاتې دئ او د موسیقي تر حده چې اولس د نوي موسیقي په پرتله کلاسیک څومره خوښوي دغه ذوق دا شاهدي ورکوي چې کلاسیک د اولسي ادب او د اولس د Tasteپه زېرمتون کښې د خپل سرور رومانوي ترې خپله تنده خړوبوي.

فوکلور د اولسونه نېچرلي ذوق په خپله معطره سینه کښې ساتلی. د خاپوړو له بشره بیا تر هومو سیپینزو Homo Sepiansپوري د مزل په حالت کښې د وختونو منابع و مفاهیم یې له خپل ځان سره بیخي جوخت ساتلي.

استاد لعل باچا ازمون ډېره ښه پایله ورکوي چې د فوکلور د انسان له ژونده سره سم مزل وهلئ دی.

ماظنونوتملاع د وا روتلاک

انسان چې کله د خبرې کولو جوګه شو نو پیل یې له اشارو او کنائیو Symbolic languageڅخه وکړ، څنګه چې ارتقایي عمل پر مخ تګ وکړ انسان دغه علامتونو ته مفاهیم او پراخوالی ورکړ، د غړونو ایستل او ابجد د علامت ترقي یافته بڼه ده.

د ژوند په وړومبیو کښې بشر د اظهار او د ابلاغ لپاره وړومبی په علامت تېکه وکړه او تر زرګونو کلونو دغه لړۍ همدغسې روانه وه، په ارتقایي توګه چې کله

بشر د داسي پديدو سره بلد شو چي مبهم يا پېچلي وو نو يې د دغو ستونځو د هوارولو لپاره د دا غوښتنه ورته پيدا شوه چي ده اظهار لپاره مرستندويه وه.

"د سېمبول ريښه د لاطيني Symbolu څخه وتلی ده چي د نښې د پېژندنې، درک، لټونې په مانا ده. په يوناني دوې بېل کړل شوې برخې سره نښلول سېمبل دی.

انګريزي لغات د علامت تعريف داسې را اخلي:

> "Symbolism is the use of symbols to signify the ideas and qualities. It is an object representing an other to give entirely a different meaning that is much deeper and more significant.

ژباړه: "سمبوليزم د نظرياتو او ځانګړتياو د ښبه کولو لپاره د سمبولونو کارول دي. دا يو شی دی چې د يو بل استازيتوب کوي چي ترڅو په بشپړه توګه يو بله معنی ورکړي چې خورا ژوره او ډېره مهم وي"

علامت قسمونه:

علامت په درې برخو کښي لوستل کېږي؛

۱ روايتي: دا د هر تهذيب ميراث کېدلی شي، ټولنه يې خپله ټوکوي او روزنه يې کوي تر دې چي د رواياتو برخه وګرځي.

۲ کلتوري: دا په زمان و مکان کښې اخښل شوي وي، زمان يې خپله د اړتيا له سوبه اختراع کوي.

۳ آفاقي: بېلابېل فرهنګي يا تهذيبي وګړي چي په مشترکه توګه کوم علامتونه کاروي يا يې جوړوي هغه آفاقي وي."۹

د علامت په اړه د بېلابېلو پوهانو بېلابېل نظرونه وړاندي کړي دي چي ډاکټر فريد حسيني په خپل کتاب کښي راخيستي دي.

"د فکر په هر سطح فکري ژوند یو علامتي عمل دی.

پروفیسر اې ډي رچې A.D. Ritche

ټکی د څیز علامت جوړیږي، او په علامتي توګه د یو څیز د ترجماني څرګنده اړتیا پوره کولو لپاره ژبه کاروي. وهائیټ هېډ

ویي چي د نښې یو ځانګړی قسم دی علامت ورته ویل کېږي. استېنګ

علامت یو رنګه څرک (Clue) دی چي موږ ورباندي د خپ څیزونو د تعین کوو. ګارډنر معرفي"

انتهروپولوجي (بشريات) وايي چي کله وړومبي بشر پر خط استوا خپله ګېر چاپېره نړۍ ولیده او ټول منظرونه یې په خپل تخیل کښي خوندي کړ نو ده د استعارې او تشبیه هیڅ وړتیا نه درلوده، چي کله هغه د ځان سره یا د بل بشر سره په خبرو شو، دا وخت د دوی یو د بل یا په چاپېریال کښي موجود څېزونو نومونه واخیستل دغه محال چي دوي وړومبي ټکی وکاروی هغه سمبول وو- فهیم اعظمي".۱۰

د سېمبول په پراخ مانا او مفهوم کښي څېړنکارانو او پوهانو بېلابېل ټولنیز تصورات او اسطورې پلټلې چي د بشر د نیکونو د تقدس او د پېل ژوند څرګندونه کوي، همدغسې چي کله انسان انګېرنه کوي نو په علامت ټېکه کوي، دغسې علامتونه د شاعري د تغزل په خوږو کښي ګڼ شمېر مفاهیم او د ژوند د ګمان اندازې په تشریحي توازن کښي رانغاړي.

د پښتني فوکلوري اصنافو کښي چي موږ ته څومره هم متنوع موضوعات ښکاري دا د پښتني ژوند د تصوراتو، اقدارو، غوښتنو، ذوقونو، عقیداتو، ښکلائېز ادراکو څرګندونه کوي چي اساس يې علامت دی، چي کلتوري و فوکلوري چاپېریال په پوهېدلو کښي بشپړه برخه لري.

د دغې کلتوري و فرهنګي سېمبولیک ارزښت پلټلو ته موږ وڼېڅي (ترینو) فوکلور ته ځیر کتنه کوو، چې په خپله وجودي غنا کښې د بې غورۍ له ورځې د وجودي بحران په حالت کښې خپلې شوګیرې کوي.

د وڼېڅي (ترینو) فوکلور تر څېړلو زیات راټولونې ته اړتیا لري ځکه چې څومره هم سید خیر محمد عارف صاحب راټول کړی هغه خوندي دی نور د ورکېدو په حالت کي دی، ماچي څومره هوم ښار ته نژدې سیمو خلک پوښتلي هغوی سره هیڅ نه دی پاته.

دلته موږ د وڼېڅي فوکلور غاړې، ماتې غاړې، د اتڼ غاړې او سریتې (هوېان ) چې په انګۍ و په چغۍ هم یادېږي د موضوع تحلیلي برخه ګرځوو.

وڼېڅي فوکلور:

غاړې:

که راسې باهـو بې تـس کي

سـپین مړوند به دې بالښت کي ۱۱

په دې غاړه کښې که څه هم د مینې او رومانویت فکري اظهار خوندي دی او یوه پېغله د خپل مین د وصل کیفیاتي تصور په خپل الهامي تخیل کښې اخلي چې که ګران راشي نو "باهو" به وغورغوم او له سپینو مړوندونو به بالښت ورجوړ کم دغه د مړوند و د بالښت تصور د وصل حالت دی او دا د وصلتبا توده جزبه په خپل رومانوي وجود کښې خوندي کوي خو بل پلؤ کلتوري څرک هم پکې نغښتئ دی،

باهو د ښځې د ګېڼې یو توکی دی چې په لاس کېږي او د غټ سایز وي چې ټول مړوند په خپل حصار کښې اخلي، دا عموماً له سپینو یا له ګیلټو جوړ وي او د زرګر

په هنري ګوتو پکښې نقاشي شوې وي او د بندولو لپاره يې تر منځ کړۍ ته ورته ترکيب ورسره کارولئ وئ چې په يو تار د باهو دواړه اړخه سره وصل کېږي.

باهو عموماً د پښتني کلتور توکی دی چې له وختونو وختونو يې پښتني پيغلو د جمال برخه پاته شوی دی، چې دغه د باهو تسلسل ورو ورو تر کړو او تر بنګړيو وده وکړه او اوسني پېر کښې بيخي متروک دی يوازې ځيني غرنۍ سيمو کښې ليدل کېږي چې لا اوس هم موجود دی.

د بشر په ارتقايي مراحلو کښې چې کله ښځه د دېوي له حېثيت يوازې د ښځې تر حده پاته کېږي نو هغه وخت د بېلابېلو کړاونو تېرېږي چې يو هم دغه چې کله ښاغلي خلک خپلې ورځني بوختياوې ګورې نو ښځو ته ببرۍ او زولنې اچوي چې په دې اړه مختلف تصورات موجود دي ځکه په دې اړه ډاکټر برکت شاه کاکړ صاحب وايي چې وړومبی انسان په يو شي کي خپل ضرورت لټوي وروسته يې زوق ورسره پيدا شي او وروسته هغه ته ټولنيز تقدس وربخښي ځکه چې دا ووايو مغالطه به نه وي چې دا هغه وړومبنی تصور دی چې اوس ټولنيز ذوق ګرځېدلی دی.

هېر مې نه يې يې مې زړه چې

تا دسمال ده ما جېبۀ چې ۱۲

دغه غاړه که څه هم وفادارۍ او د بې جولې ميني ژمنتيا په خپله موضوعي بهير کښې ساتي خو بل پلؤ ته يې په تخيلاتي هيت کي په علامتي کېږي د "دسمال" علامت خوندي کړئ دی چې موږ ته يو دوديزه کلتوري منظر کشي په کښې تر سترګو کېږي.

دسمال په دوو درو حالتونو کښې د کلتور برخه ګرځېدلی دی، يو ده واده دسمال دی چې د واده تر وروځو يې څو ورځي وړاندې يوه ډله ښځي د ناوکۍ لپاره جوړوي او وروړي يې چې په ټولو پښتني سيمو کي لږ له توپير سره اوس هم موجود

دی، په وڼېځي کښي ورته "لاس وېندا" (چي اوښتي بڼه يې لس وېندا يا ګنډي) وايي. دويم دسمال د زوم لپاره وي چي له سپين تانه جوړ وي او زړونګي و ګلان يې پکې نقش کړي وي چي د واده په ورځ زوم "خونئ" پکي وېشي دريم زموږ د موضوع بنيادي علامت چي په غاړه کي راغلی په پښتني ټولنيز چاپيريال کښي دغه دسمال د ميني سېمبول دی چي د ميني په وړومبي حالت کي د نجلۍ له خوا مين ته ورکول کېږي چي د ميني ژمنه ځرګندوي، دغه دسمال له سپينه تاغه جوړ وي د ستنې کشېده "نقاشي" په کښې شوې وي چارچاپيره يې ورباندي زړونګيان "ژنګي" پېرلي وي چي وروسته په اتڼ کي هم دغه دسمال د اتڼ چي له لوري د حرکاتو په وخت د حرکاتو برخه وي او په ښورولو يوه مهينه نرۍ موسيقي رغوي.

شنهٔ خالهٔ دې دي لړم

رېبون دې اور ده ليلم۱۳

په دې غاړه کښي شنه خالونه د کلچر جمالياتي ذوق په مانا اخيستل شوي دي چي وروسته "رېبون" د ډرېس کوډ په مانا اخيستل شوی دئ ، ليلم استعاره ده چي يو دم اور اخيستونکی شی دی دلته يې د يو ځوان وجود لپاره کارولې، چي د ځوانۍ له مستي غرقه ده، غرقه په معنا د انتها کارول شوی او چي دغه تصوراتي حالت د اور د تباه کولو نښه ده چي د يو چا وجودي زغم د تاب د راوړلو نه دی چي دا دومره پېچلی حالت وزغمي.

رېبون د پښتانهٔ کلتور يو مهمه برخه دي چي د وادهٔ دوديزه جامه ګرځېدلي او د پخو ښځو عمومي لباس وي، دا غاړه تاريخي، تصوراتي منظر کښي او دوديزه علامتونو ځرګندونې لري،

لکه يوه د اتڼ غاړه ده چي :

یاره یاره یاره

ما تندي چي خالۀ رش دي تا دپاره

لاس لاسـتـۀ چـي ولـه

لا مـې وکانـه تـه چـورو لـه مـیاره

شـیـن پـتـهـکـا ودرېـده

غرقې پېزوان دې غوارې تا خوله۱۴

دلته دغه غاړه د یو ځوان ناڅاپي دیدن او یو وجداني کیفیت بیانوي، چي پېغله په شنه ټیکري ناڅاپه ور څېرمه کېږي او د ځوان احساسات لړزېږي او یو دم وایي؛ غرقې پېزوان دې غوارې تا خوله،

شین پټکا دلته بیا پښتني ډرېس کوډ کشفوي چي شین ټکری د پیغلو انجونو د ښکلا مظهر وي او زرغون رنګ د ابادۍ نښه وي چي دلته زرغون ته شین او زرغون دواړه ټکي کارول کېږي، او پېزوان دلته د مادي کلتور د یو مهم علامت په توګه راغلی دی چي زموږ ټولنیز ژوند یا ټولنیز اقتصادي نظام څرګندوي.

شپنو یاري دې سره سس

کله دې کور کله واندړه سس

د دې غاړي موضوعي اړخ غندنه ده او د ښېرا په طرز ده، چي د شپنو یاري د سره سي، سره سي سیمه ایزه ښېرا ده چي د غم د ویر د بربادۍ په مانا اخیستل کېږي. سره یعني په غم دي اخته سي.

وانډه د پښتني ټولنيز ژوند تاريخي علامت دی، چي په تاريخي توګه د کوچياني ژوند او وچکاليو د موسمونو د تغيراتو د وجي تل په کوچياني حالت کې پاته شوي دي.

او بل د سيمه ايزه پونده وو يا د کوچيانو د ژوند منظر کشي په کي را اخيستل شوي ده چي د موسمونو د تغيراتو له کبله او د خپلې مالدارۍ د ژغورلو له کبله د وانډې په توګه يون کوي او په ژمي کښي د وړي له مينو په زمېستنو کښي پاته کېږي چي دا د غرونو منځ کښي داسې ځائ وي چي هغلته د هوا او د يخ ويره نه وي.

سوال دې کي پردېسه يي

ګرانه تا خنګ ته دې چيني ۱۵

په دې غاړه کښي د رومانويت يو پوره داستان رانغاړل شوی دی، مينه خپل مين ته په خواستی د ناستې ارز کوي چي د ديدن کيفياتي حالت څرګندونه کوي.

په علامتي توګه په غاړه کښي د پرديسۍ علامت د ټولنيز ژوند بشپړه پس منظر لري.

چي د پښتانه د مېنو يا کډواله ژوند عکاسي کوي، چي د موسمونو له کړکېچونو يا د پاوالي ژوند له کبله پښتني کليوالو سيمو خلکو د پرله پسې نوي نوي مېنو ته تلل چي د خوراکي توکو د کمبوت او د ژوند د ټولنيز ماحول انځور پکي غوندي دی.

په دغه پس منظر کښي يوه بله غاړه چي هم دغه موضوعيت پکښي خوندي دی.

يي ولاړه کسه ماته

کني وياړي خراسان ته

خراسان د پښتني سيمو د وړي موسم د عمومي ژوند علامت دی.

چې په کلتوري پېرایه کښې تړلې پښتانه د وړې د موسم منزل مقصود دی، پښتانه عمومي دوه یا درې څه تر څلور واره مېښې بدلوي چې ورته پاوالي ژوند هم ویل کېږي خو دلته له پاوالي څه مراد هغه ټبرونه دي چې مالداري لري او د خپلې مالدارۍ د پاملرنې په غرض مېښې بدلوي خو بل پلؤ هغه ټبرونه هم پکښې برخه لري چې په دوو موسمونو کښې په دوو بېلو بېلو ساحو کښې د ژوند چارو د لټون په سوب استوګنځې لري.

دا استوګنې په ژمي کښې په زوره هواره یا زورې په غرونو کښې تر سره کېدې چې دې استوګنځې ته زمېستنې ویل کېدې او په دوبي کښې به یې په خراسان کښې اړول چې پخې مېښې او بېلابېل نومونه لري.

په دې غاړه کښې دوه مېن سره په دراوۍ دئ چې د انجلۍ د تګ په وخت ده او وروستۍ دراوۍ ده ځکه انجلۍ وايي چې څومره هم کولۍ شې زما سترګو ته وګوره او درڅخه ځمه خراسان ته، که څه هم د ژوند کړاوونه بېخي زیات وو خو فکري ماحول له مینې ډک پاته شوئ دی چې موږ ته له فوکلوري اصنافو راترسترګو کېږي، او د پښتانه د رنګین او له مینې ډک ژوند عکاسي کوي.

ماتې غاړې

ماتې غاړې هم د سهېلي پښتونخوا د فولکلور په برخه کښې یو غني صنف دی چې د جذباتو د اظهار او فکري ارزونې او غوښتنې په یو پراخ موضوعي قالب کښې ساتي.

واچه کچکول غاړې چې

خیرات بې تاته زه لې۱۴

دغه ماته غاړه یو بشپړ ټولنیز چاپېریال لري چي د کچکول او د خیرات علامتونه را برسیره کوي.

کچکول او خیرات، منجارۍ او پلورل دا یوه ډېره لرغوني سابقه لري چي په پښتني ټولنه کښي د دوی د مقام څرګندونه کوي، منجارۍ او خیرات غوښتونکي په کلي ګرځي او د خپل ژوند لارې چارې لټوي، پښتني سیمو کښي که څه هم د ستر یا د پردې کوم کنسیپټ موجود دئ خو دغه کسان له دې شي ماورا دي او له دوي څه ستر نه کېږي ځکه هغه یوه ټپه څه داسي راځي چي:

ملنګه دوې ګټې ډي وکړې

یو دي خیر ټول کړ بل دې وکړل دیدنونه

په یاده ماته غاړه کښي هم د نجلۍ له لوري خپل مین ته وړاندېز کېږي چي کچکول غاړې ته واچوه او خیر لپاره راځه خیرات به زه درکوم چي عموماً د دیدن خیرات یادوي.

چورو بیار نارې کو

طالب جان راغه حجرې ته۱۷

د طالب و د میني کیسه ډېر زوړ تسلسل لري چي طالب په کورنو ګرځي زیرې ټولي او ورسره د میني یو ډېر پراخ تسلسل خپل موجودیت څرګندوي.

په علامتي توګه طالب او حجره دواړه علامتونه دي چي د پښتانه په ټولنیز تسلسل کښي د حجرې بشپړه تصور دی او بل د میني یو پراخ سېمبول چي د طالب سره تړلی دی.

د اتڼ غاړې:

ورځ ورځ راغیه ټک یې نسته

ټک دارو بې موش لوړه وي

خو ورۀ والو سره تس توپک لا نسته

د اتڼ غاړه چي په عموماً يې بحر او وزن له غاړو بدل وي او د اتڼ حرکتونو سره سمه رغول کېږي خو د ميني او د اظهار هغسې ځرګندونه لري لکه په عامو غاړو کښي چي يې موږ وينو.

په دې غاړه کښي علامتي توګه د واده بشپړه انځور ګري شوي ده، په دې غاړه کښي دوه لوري را اخيستل شوي دي ورا او توپک، چي د ورا په وخت د توپک ټکان يا ډزي کول د پښتني کلتور برخه ده چي د خوښۍ په وخت خلګ له خوشحالي اتڼ کوي سندري وايي او دغه کيفيت د لا قوي ساتلو لپاره د ټوپک ټکان کوي.

د واده له دوديز رسم سره سمه يوه بله د اتڼ غاړه ده چي د واده کيفيت پکې نغښتئ ښکاري،

سرۀ سو اورۀ سرۀ سو

ما ويي خورژه لاليه اورۀ سرۀ سو

آغه ځوانان څۀ سو

څۀ چېبۀ چي يې زما لونګ زاړۀ سو

دا غاړه د يوې انجلۍ د جذباتو اظهار ځرګندوي چي په وادۀ کښي دغه غاړه پورته کوي، چي ګېر چاپېره اورونه بل شول، مين مخاطبه کوي چي تا ورته پام دئ دا د وادۀ اورونه دي او هغه ځوانان څه شول د چا په جيبونو کشي چي زما لونګ زاړه شول، يعني دومره زيات انتظار ته اشاره ده چي لونګو له ډېره زياته وخته وروسته خپله ورمه پرې ايښې ده.

لونګ د میني د ژمنتیا علامت دي او سرۀ اورونه د وادۀ د پېل علامت دي چي په دې غاړه کښي خوندي شوي دي.

توره دې لنګي ول دورائي ده

تا مرکی دې نه وین

ما لالیه تاغه څټه ویراني ده۱۸

لنګۍ د پښتانه د ډېرېس کوډ عکاسي کوي لکه د انجونو چکن، شال، ژیړ ټکرۍ، شنه او زرغون کالي، ګېڼې، او ګرېوان دغسې د نر د اغوستلو هم ځانته بېل بېل توکي موجود وي.

لکه ګینې چي د نسوانیت او د ښکلا سېمبول دي دغسې لنګۍ د نر د ښکلا سېمبول دي.

دې غاړه کښي د لنګۍ علامت خوندي شوی دی چي د پښتانه د ننګ او پت او استعاره ده.

دورائي یو بل علامت دی چي په دې غاړه کښي تر سترګو کېږي، دورائي یو رنګه رخت وو چي عام و خاص به ډېرو شېانو لپاره کارول کېدئ، خو دې غاړه کښي چي په کم کونټېکسټ کښي را اخیستل شوی دی نو مانا یې بیله راځي، د دې مانا د لټون لپاره ډکشنري څه داسې کاږي.

دورائي: حکومت، سلطنت

دورائي پهېرنا: حکومت کرنا، سلطنت کرنا

انګریزي کښي څه داسې مانا راکوي!

Durai is Hindu boy name and originated. Durai name meaning in Urdu is قائد and it's English meaning is chief,

leader in Tamil .. lucky number for durai is 5. پیلا ، ذیکا ،

سفیدis the lucky colours for durai.

راسه چورې راسه

یو وټا خو ماته جوړ که تا د لاسه

یو به یې بوی کې

بې بې چینوي لنګې پلؤ د پاسه

که څه هم په یارۍ کښې یا په مینه کښې چې د ډالیو تسلسل موجودیت لري خو مونږ ته په زړو سابقو کښې هم دا شئ تر سترګو کیږي.

په دې غاړه کښې مونږ ته "وټا" (ځونډئ) یو علامت تر سترګو کیږي چې د دوو کسانو د مینې علامت دئ.

هلک انجلۍ ته وایي چې وټئ راته جوړ کړه یا به بویوم یا به یې کښیږم د لنګۍ پلؤ لپاسه.

په زړو سابقو کښې عموماً په مینې کښې مین لره وټئ جوړیدئ چې لونګ به پکښې کارول کیدل، یا به دسمال او یا به واګې لپاره د کرزیو ګول جوړیدئ.

ما مخ مندې لنګې پلوۀ خواره سو

عاشق زړې رانغې

تور لونګ مې جیبو چې زاړۀ سو ۱۹

دلته د یوه اوږد مهاله بیلتون اظهار شوئ دئ، چې د متحرکه پښتنې ټولنیز ژوند عکاس دئ،

بل پر مخ د لنگۍ پلۀ خوربدل يو علامت دئ چي د مرگ يا د مړيني په مانا اخيستل کېږي، پخوا به کليوالو سيمو کښي عموماً چي څوک به مړۀ شو نو پر مخ يا پر تن به يې لنگۍ ورباندي خوروله چي دغه د مرگ په وخت يو رسم وو چي اوس هم په ځينو سيمو کښي ترسره کېږي، دغه دود سره يو ټولنيز عقيدت تړلئ وو.

په پښتني کلتور د ډربس کوډ ډېر ګڼ اړخونه لري چي په بېلابېلو وختونو پلي کېږي، لکه دا غاړه چي وايي

زيړه ليلا زيړه

نن وخته اوبو ته دا ايکړه

زيړ پټکا يې سر ده

شنۀ خالۀ دي سرې کپي بالا يې دړه

دلته د ليلا زکر شوی دی چي زيړه ليلا د چټې انجلۍ په مانا اخيستل کېږي او د ژړ ټيکري علامت يې د پېلغتابه يعني د چټې په مانا اخيستل شوی دی.

مړوشې ښځې چي له واده وروسته په بېلابېل زمان کښي بېلابېلې جامي اغوندي خو دلته ژړ ټيکري تر واده له مخه چي پېغلو له لوري دود وي ژړ ټيکرئ وي.

دغسې د واده په وخت کښي زرغون چکن او تر هغه وروسته بيا زرغون شال وي ، چي ځينې وختونه سور يا د ګلانو ټيکرئ هم کارول کېږي.

تور چکن ده نوم يې لوړ ده

ملتانه مې راوړ ده

ما وړې ورنداري سر ده

دلته چکن یو بل علامت دئ چي د واده د دود په مانا دی، چکن به عموماً د واده په ورځ د ناوکی پر سر وو، ځیني وختونه شال هوم کارول کېږي خو پخوا به د وادهٔ په ورځ یوازي چکن ناوکۍ ته ور په سر کېدئ او جامي به یې د ګرېوان وې چي وروسته به بیا ورو ورو له ګڼو جامو سپکو جامو اغوستل پېل کېدئ.

کمې نجلۍ چي به نوي وادهٔ شوې وه که به چیري یو چا ولیدله نو د هغې له کالیو به ورته اندازه کېده چي څه وخت واده کړل شوي ده.

له دې سره سره ګېڼې (زیورات) چي په مختلفو وختو به کارول کېدل د هر وخت به ځانته کېڼې اچول کېدې چي په دې غاړه کښي یې زکر شوئ دئ.

ناوي چینه ته مه زاړه

تاته خپل لېور ولاړ ده

تې چارګل غواړې که غاړه ۲۰

چارګل او غاړه (غاړګۍ) چي به د خوښیو په وخت انجونو کارول او په بېل وختونو به له هغه موقع سره سم ګېڼې اچول کېدې.

خو چارګل داسي وو چي د وادهٔ په وخت به اچول کېدئ او یا تر وادهٔ وروسته به هم اچول کېدئ. تر وادهٔ وړاندې به انجلۍ نتکۍ یا هم بل سه اچوئ چي تر چارګل به سایز کم وو او سپک به وو.

چارګل به عموماً غټ راتلی، اوس واړهٔ چارګلان دود دئ لوئ چارګلان متروک دي یوازې په غریزه سیمه کښي د ښځو په پوزه وي یا ببخي زړې ښځې یې په پوزه کوي.

منظومې:

ماته سې توبي ــــ زه ویاړي تر لاهوره تر سوي

سي اووا زړونه مې وکريش ــ ته لا نۀ يې د ډوډې

يوه اساطيري منظومه ده چې د ډاينې يا د روګې له لورې ويل شوې ده.

او په دې کې توبې د علامت په لورې د کورني چاپيريال کلتوري اړخ راسپړي.

دغه ډاينه له خپل کاره راستنېدلې خو توبې (د سګر له ډبرې جوړه چې د جوارو ډوډۍ پخولو لپاره وي) يې لا سړه او د ډوډۍ د پخوله نه ده، نو ځکه ښېرا کوي چې ماته سي، ما ټوله شپه سفر وکړ له سيوۍ تر لاهور پورې مې ټول وطن وپلټئ يو سل اويا زړونه مه وکشل ته لا هغسې سړه انګړه يې.

د ډاينې تصور له وختونو وختونو د اولسونو د زهنيت برخه پاته سوی دی، د ډاينې څه مراد هغه ښځه چې زړونه کاږي، دلته دا تصور د هغه ښځو په اړه موجود وو چې به زړې شوې يا کله چې به د ستونځو سره موخ شوې ولې، يا يې يوه ستونځه درلودلې وه هغه ښځې ته د ډاينې په سترګه کتل کېدل او له هغې ټولو خلکو کرکه کوله، بيا چې به کله په کلي کې يا د چا په کور کښې چې کومه ستونځه رامنځ ته شوه نو لامل به يې دغه ښځه ګڼل کېدی.

ډېر کله به د يو عام کيسې په تسلسل کښې کورنۍ بد نيتي هم د دغو ښځو لپاره دغه تصور رامنځ ته کوئ.

توبې پخوا خلګو د ډوډۍ لپاره کاروله چې د سګر له ډبرې جوړېدله او ډېر په ګرانه به تودېدله، دغه توبې ځای اوس تبخې نيولی چې ډېر په اساني سره تودېږي او ډوډۍ هم ژر پخوي، خو توبې ځينو کليوالو يا غره يزو سيمو کښې اوس هوم شتون لري، په سيوۍ او هرنايي کښې عام ترسترګو کېږي.

تا کوندړا ماته وله ــ ما کوندړا ته واخله

کوندړا مې تنګړا ده ــ مېلمون مې لنګړا ده

دغه یوه تاریخي منظومه ده چې د ټکو د کارولو طرز ته یې ګورو نو دغه ټکي اوس بیخي متروک دي له دې منظومې پرته ما د چاڅخه نه دي اورېدلي.

دلته "کوندړا" د "کټوۍ" لپاره کارول شوی دی چې په اوس وخت یې حرف تسمیه "منګوټیا" دود ده.

"تنګړا" د منظومې د وزن ساتلو لپاره کارول شوی دی چې "تنګ" یا د وړکي په مانا اخیستل شوی دی چې ونېځي کښې د "غارت" تسمیه ورته کارول کېږي.

په دې منظومې کښې دودیزه منظر کشي شوې ده چې د "مېلمه پالنې" دود د پښتني کلتور مهم دود دی چې د ننګ، پراخ زړه او سخاوت نښه ده.

پایله

د پښتو ژبې د بیلابیلو ګړدودونو (لهجو) ښائست او په هغه کښې پروت ژبني ساختونه او رغښتونه تر ډېره حده نه دي څېړل شوي، البته کله موږ د دې لهجو څېړنه په یوه علمي او تحقیقي پېرایه کښې وکو نو موږ ته دا خبره جوته شي چې یوه لهجه که هر څومره د اکثریتي یا غالبي لهجې په شتون کي بیا هم خپله ځانګړتیا دایمه ساتي خو د دې سره سره اولسونو د څنګلورو لهجو او ژبو څخه هم ډېر څه اخیستي وي. د دې مقالې په ترځ کښې موږ دې پایلې ته رسو چې د هرنائي او زیارت په ځینو سیمو کښې رواج دغه ګوښه او خوږه لهجه په خپل داخل کښې ډېر داسي علامتونه، کلتوري او ټولنیزي نخښې، تلمیحات، استعارې او بشپړه علامتي نظام روغ کړی دی چې په عمومي توګه معنا هم ښندي، په ربط کي جامعیت هم لري او د دې سره ځانګړي نفسیاتي او ښکلائیز قدرونه هم ترسیلوي۔

# ماخذونه


۱) ازمون، لعل باچا ، فوکلور پوهنه، پښتو اکېډمي کوټه بلوچستان، 2023 مخ ۱۵

۲)همدغه اثر مخ ۴۲

۳)همدغه اثر مخ ۲۴

۴)د ثقافت بېلابېل رنګونه، ډاکټر روته بېني. ژباړه نصرالله وزیر، پښتو اکېډمي کوټه بلوچستان 2014، مخ ۳

۵)ازمون لعل باچا، فوکلور پوهنه، پښتو اکېډمي کوټه بلوچستان، 2023، مخ ۲۴-۴

۶)همدغه اثر مخ ۳۲

۷)رفیع، حبیب الله، د خلګو سندرې، دامان کتاب خپرولو موسسه، مخ ۵-۷

۸)ازمون، لعل باچا. فوکلور پوهنه، پښتو اکېډمي کوټه بلوچستان، 2023، مخ۳۱

۹) حسینی، ڈاکٹر فرید، علامتوں کا عروج (انتظار حسین کے فکشن میں علامتیں) فکشن ہاؤس لاہور، 2020، صفحہ ۱۹

۱۰)همدغه اثر مخ ۱۲

۱۱)عارف، سید خیر محمد ، د غاړو ادبي څېړنه، پښتو ادبي ملګري لورلائي 1995 مخ ۱۳

۱۲)همدغه اثر مخ ۱۳

۱۳)عارف، سید خیر محمد ، په ترینو لهجه کښې فوکلوري اصناف، پښتو اکېډمي کوټه بلوچستان 2021، مخ ۹

۱۴)همدغه اثر، مخ ۱۲

۱۵)همدغه اثر، مخ ۱۴

۱۶)همدغه اثر، مخ ۶۹

۱۷)همدغه اثر، مخ ۴۵

۱۸)همدغه اثر، مخ ۳۴

۱۹)همدغه اثر، مخ ۵۳

۲۰)همدغه اثر، مخ ۴۸

۲۱)همدغه اثر، مخ ۵۳